# الطارق

**مکی سورة دی ۱۷ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلسَّمَآءِ وَٱلطَّارِقِ ١

**قسم په آسمان او طارق.**

وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلطَّارِقُ ٢

**او( ای مخاطبه!) ته څه پوهیږې چې طارق څه شی دی؟**

ٱلنَّجۡمُ ٱلثَّاقِبُ ٣

**یو ځلیدونکی ستوری دی( چې د شپې تیاره پردې څیروی او خپله خلا راڅرګندوی).**

إِن كُلُّ نَفۡسٖ لَّمَّا عَلَيۡهَا حَافِظٞ ٤

**( په همدغو دواړو قسم )چې د هر شخص لپاره یو ساتونکی( او څارونکی) مؤظف دی( چې اعمال یې لیکی او له حوادثو یې ساتی).**

فَلۡيَنظُرِ ٱلۡإِنسَٰنُ مِمَّ خُلِقَ ٥

**نو انسان باید په دقت او تأمل سره( خپل خلقت ته) فکر وکړی چه له څه شی پیدا شوی دی؟**

خُلِقَ مِن مَّآءٖ دَافِقٖ ٦

**له( یو ډول خاصو) خوځیدونکو اوبو نه راپیدا شوی.**

يَخۡرُجُ مِنۢ بَيۡنِ ٱلصُّلۡبِ وَٱلتَّرَآئِبِ ٧

**(هغه اوبه چې د نارینه) د ملا د هډوکی او( د ښځې) د سینې د هډوکو له منځه راوځی.**

إِنَّهُۥ عَلَىٰ رَجۡعِهِۦ لَقَادِرٞ ٨

**بې له شکه چې الله تعالی د مخلوقاتو په بیا راژوندی کولو پوره برلاسی او قدرتمن ذات دی.**

يَوۡمَ تُبۡلَى ٱلسَّرَآئِرُ ٩

**هغه ورځ چې ټول اسرار(انسانی اعمال او د هغو تر شا یې نیتونه، اراده او اهداف) به راڅرګند (او پلټنه به یې پیل) شی.**

فَمَا لَهُۥ مِن قُوَّةٖ وَلَا نَاصِرٖ ﴿١٠﴾

( په دغه ورځ به له الهی مؤاخذې نه د ژغورنې لپاره) نه له چا سره کوم ذاتی ځواک وی او نه به يې بل څوک مرسته او ملاتړ کولی شی.

وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلرَّجۡعِ ﴿١١﴾

قسم په باران وروونکی آسمان.

وَٱلۡأَرۡضِ ذَاتِ ٱلصَّدۡعِ ﴿١٢﴾

او ځيرې کيدونکې ځمکی( چې اوبه جذبوی، چينې ترې رابهيږی او غلې دانې ترې راټوکيږی).

إِنَّهُۥ لَقَوۡلٞ فَصۡلٞ ﴿١٣﴾

چې دا قرآن( د حق او باطل ترمنځ) جلا کوونکی( او آخرنی فيصله کوونکی) کلام دی.

وَمَا هُوَ بِٱلۡهَزۡلِ ﴿١٤﴾

او ټوکې او عبث خبرې نه دی.

إِنَّهُمۡ يَكِيدُونَ كَيۡدٗا ﴿١٥﴾

کافران تل( د حق نور د خاموشه کولو لپاره) دسيسه او پلمه جوړوی.

وَأَكِيدُ كَيۡدٗا ﴿١٦﴾

او زه هم( د هغوی په مقابل کې) مناسب تدابير غوره کوم .

فَمَهِّلِ ٱلۡكَٰفِرِينَ أَمۡهِلۡهُمۡ رُوَيۡدَۢا ﴿١٧﴾

نو کافرانو ته مهلت ورکړه او څه لږه موده يې پخپل حال پريږده.( بيا وګوره چې په دنيا او آخرت کې ورسره څه کيږی؟

« تمت سورة الطارق بفضل الله و رحمته»

====================